# د مولٰی علی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

# جنّتي باغونه

**06-March-2026**

هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 5 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 16 رمضان الكريم، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جنّتي باغونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د اَصحابِ بَدَر فضیلت
- ـــ د نادِ علي برکتونه
- ـــ د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جَنَّتي باغ
- ـــ د طوبیٰ وَنې جرړې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام نه پوښتنه اوکړه: د الله پاک پهٔ نزد د ټولو نه زيات کوم يو عمل خوښ دے؟ عرض يے اوکړو: اَلصَّلَاةُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ وَحُبُّ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ يعني پهٔ تاسو صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود وئيل او د حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول (د الله پاک پهٔ نزد د ټولو نه زيات خوښ عمل دے)۔ (1)

| | |
|---|---|
| اے مدینے کے تاجدار سلام | اے غریبوں کے غمگسار سلام |
| تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے | سو درودیں فِدا ہزار سلام |
| میرے پیارے پہ، میرے آقا پر | میری جانب سے لاکھ بار سلام |
| عرض کرتا ہے یہ حسنؔ تیرا | تجھ پر اے خُلد کی بہار سلام (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...القول البديع، الباب الثانی فی ثواب صلاة علی رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:134۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:170، 171 ملتقطاً۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د اللہ پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## کشتۍ یې غاړې ته ولګیده ---!!

یوه ډیره ښکلې واقعه واورئ! بیانولے شي چې څه کسانوپهٔ سمندري جاز کښې سفر کولو۔ ناڅاپه تیزې هواګانې شروع شوې، جاز ټالۍ وهل شروع کړې، مسافر پهٔ زړهٔ کښې ویریدل، کلمه درود او دعاګانې وغیره لوستل شروع شول، زړونه پهٔ تیزۍ سره درزیدل، د ټولو سره هم دا ویره وه چې آه! مونږ به د سمندر پهٔ مینځ کښې ډوب شو او مړهٔ به شو۔ یو اړخ ته خو پهٔ جاز کښې داسې هله ګوله وه، بل خوا یو مَجذوب (یعنې د اللہ پاک پهٔ عشق کښې ډوب) بزرګ د هر څیز نه بے نیازه د جاز پهٔ کوټ کښې پهٔ ارام اودهٔ وو۔ یو مسافر چې کله هغه ولیدلو نو ورنزدې شو، هغوئي یې ورقولو، ناڅاپه چې یې سترګې وغړیدلې نو هغوئي پهٔ تادۍ سره ووئیل:

بِسْمِ اللہِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِہٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَ لَا فِی السَّمَاءِ وَ ھُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ

ترجمه: د اللہ پاک پهٔ نوم سره، د چا د نوم پهٔ برکت سره چې پهٔ زمکه او اسمان کښې هیڅ څیز هم نقصان نهٔ رسوي او هُم هغه اوریدونکے او پوهه دے.

---

1 ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

مسافر ووئیل: اے د خُدائے بنده--! آیا تاسو نۀ وینئ چې مونږ پۀ کوم مصیبت کښې راګیر یو، تاسو بیا هم پۀ ارام اودۀ یئ- هٰغه مَجذوب بزرګ خاموشه پاتې شو، پۀ خُله یې هیڅ اونۀ وئیل، بیا یې یو کاغذ راویستو او مسافر له یې ورکړو او اوئې وئیل: دا کاغذ واخله او د جاز د پاسه یې کېږده او راځه ترې --!! هٰغه مسافر وائي چې ما د هغوئي خبره ومنله او هٰغه کاغذ مې د جاز د پاسه کیښودو- څنګه چې ما دا کار اوکړو، الله پاک زما د سترګو نه پردې لرې کړې! څۀ ګورم چې ډېر خلق دي،هغوي جاز د یو اړخ نه نیولے دے او د وَچې طرف ته یې راښکاږي- پۀ هٰغه ورځ طوفان دومره تیز وو چې ډېرو سمندري جازونو د دې مقابله اونکړے شوه او مات شو او پۀ سمندر کښې غرق شو خو پۀ مونږ باندې کرم وشو، هٰغه غیبي بزرګانو زمونږ جاز راښکلو او وچې ته یې ورسولو- هٰغه مسافر وائي: زۀ ډېر حیران ووم، کله چې ما هٰغه کاغذ راواخستو، وه مې کتلو نو پۀ هغې کښې د بدري صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم نومونه لیکلي شوي وو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هٰغه پاکو نومونو پۀ برکت زمونږ ژوند بچ شو، پۀ بله ورځ مونږه د هٰغه نومونو پۀ وظیفه کولو پۀ جاز کښې کیناستو او د دغه نومونو پۀ لوستلو لوستلو پۀ خیر خیریت سره خپل منزل ته ورسیدو- (1)

جاں نثارانِ بدر و اُحُد پر درود | حق گزارانِ بیعت پہ لاکھوں سلام (2)

**وضاحت:** پۀ غزوۀ بَدَر او اُحُد کښې د دِین د پاره پۀ خپلو سرونو قربانونکو دې درود وي، د بیعتِ رضوان پۀ حق ادا کوونکو صحابؤ [رَضِيَ اللهُ عَنْهُم] باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي-

---

1...رفع القدر فی توسل بوسیلة اہل البدر (مترجم)، صفحه:23۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:311۔

## د اَصحابِ بَدر فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غزوۀ بدر د اِسلامي تاريخ عظيم ترين جنګ وو، دا د اِسلامي تاريخ ولومبے جنګ وو کوم چې د حق او د باطِل ترمينځه شوے وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ دې جنګ کښې مسلمانانو ته ډيره عظيمه فتح نصيب شوه او غير مسلو ته عبرتناک شکست وشو- هُغه صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم کومو چې پۀ دې غزوه کښې شرکت اوکړو، پۀ هغوئي کښې د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت اَبُو بکر صِدّيق، دويم خليفه فاروقِ اعظم، څلورم خليفه حضرت علي الْمُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُم سره سره تقريباً 313 صحابۀ کرام عَلیهمُ الرِّضوَان شامل دي، اللّٰه پاک دې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم ته ډير فضيلتونه ورکړي دي- پۀ بخاري شريف کښې روايت دے: يو ځل حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض يې اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو اَصحابِ بدر څنګه ګڼئ؟ اوئې فرمائيل: مِنْ اَفْضَلِ الْمُسْلِمِيْن يعني پۀ غزوۀ بدر کښې شرکت کوونکي صحابۀ د ټولو مسلمانانو نه افضل دي- عرض يې اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! هُغه فرښتے کومې چې غزوۀ بدر ته حاضرې شوې وې، زمونږ د فرښتو پۀ مينځ کښې د هغوئي هم دغه مقام دے- (1)

## د اَصحابِ بدر د نومونو برکتونه

علمائے کرامو ليکلي دي: اللّٰه پاک د اَصحابِ بدر پۀ نومونو کښې ډير برکتونه اېښودي دي ❀ د دې نومونو پۀ وسيله چې دُعا اوکړے شي نو مُراد پوره کيږي ❀ د دې نومونو پۀ برکت د مريضانو شفا نصيب کيږي ❀ د غلو ډاکوانو نه حفاظت کيږي ❀ که بے روزګاري وي نو د دې نومونو پۀ برکت روزګار نصيب کيږي ❀ غرض دا که هر قِسمه

1...بخاری، کتاب المغازی، صفحہ:1003، حدیث:3992۔

سخته وي، پریشاني وي، د اَصحابِ بدر د نومونو په وسیله باندې دُعا اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! مشکلات به ختم شي او مُرادونه به مو پوره شي-(1)

د دې نومونو یو ډیر اهم برکت دا هم دے چې ❁ علمائے کرامو لیکلي دي: څوک چې د دې پاکو نومونو وِرد کوي، الله پاک هغهٔ ته د وِلایت تاج ورعطا کوي- (2)

اصحاب بدر کو ملی عظمت کمال ہے | عزم اُن کا ہے کمال، عزیمت کمال ہے

الله پاک دې زمونږه د اَصحابِ بدر برکتونه نصیب کړي- په غزوهٔ بدر کښې د برخه اخستونکو دغه صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم مبارک نومونه په کتابونو کښې لیکلے شوي دي، هغه حاصل کړئ! ❁ په کاغذ وغیره باندې یې ولیکلئ او د ځان سره یې کیږدئ! ❁ په کور کښې یې وساتئ! ❁ د دې پاکو نومونو په برکت سره دعاګانې کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! بے شمیره برکتونه به مو نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بدري صحابي دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مسلمانانو د څلورم خلیفه اَمیرُ المُؤمِنِين، مولائے کائنات، علي المُرتضیٰ، شیرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [تذکره روانه ده نو هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ] هم بدري صحابي دے بلکې هغوئي خو د ډېر شان والا صحابي دے چې د هغوئي په غزوهٔ بدر کښې اِمتیازي شان نصیب شوے او په دغه موقع د هغوئي په باره کښې آیتونه هم نازل شول-

اوس په دې باندې غور اوکړئ چې د اَصحابِ بدر د نومونو اخستو بے شمیره برکتونه نصیب کیږي، مشکلات حل کیږي، وراني ودانیږي نو حضرت مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم

1...رفع القدر فی توسل بوسیلۃ اہل البدر (مترجم)، صفحہ:9 مفصلاً-

2...رفع القدر فی توسل بوسیلة اهل البدر (مترجم)، صفحه:9 خلاصةً-

چې بدري صحابي هم دے او په غزوۀ بدر کښې اِمتيازي شان هم لري، د هغوئي په نوم مبارک اخستو به مشکلات ولې نۀ حل کيږي-

| | |
|---|---|
| میں گُناہوں کا مریض اور آپ ہیں میرے طبیب | دیجئے! مجھ کو شفا مولیٰ علی مشکل کُشا |
| مغفرت کروائیے! جنّت میں لے کے جائیے! | واسطہ حسنین کا مولیٰ علی مشکل کُشا |
| کیوں پھروں در در بھلا خیرات لینے کے لئے | میں فقط منگتا ترا مولیٰ علی مشکل کُشا (1) |

## په غزوۀ بدر کښې د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِمتيازي شان

**په روايتونو کښې دي:** د غزوۀ بدر په ورځ چې کله د مسلمانانو او د غير مسلمو لښکر يو بل ته مخامخ شو نو عُتبه، شيبه او وليد بن عُتبه کوم چې د مکے لوئي سرداران او غير مسلمه وو، هغوئي درې واړه د لښکر نه راوتل او وړاندې ميدان ته راغلل او غږ يې اوکړو: اے مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! زمونږ د مقابلې د پاره ځوانان راوليږئ! د هغوئي په دې غږ اوريدو څه اَنصار صحابه [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم] وړيدل، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تاسو کښينئ! بيا يې وفرمائيل: اے بنو هاشِم! تاسو ور وړاندې شئ! د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې حُکم اوريدو حضرت مولیٰ علي، حضرت حمزه او حضرت عبيده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ور مخکښې شول، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د عُتبه سره، حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شيبه سره او حضرت عبيده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د وليد سره مقابله اوکړه او په لږ ساعت کښې يې درې واړه غير مسلمه دوزخ ته وليږل- (2)

حضرت محمد بن علي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د بدر په ورځ د اسمان نه يوې فرښتے اواز اوکړو:

| | |
|---|---|
| لَا سَيْفَ اِلَّا ذُو الْفِقَارِ | وَ لَا فَتٰی اِلَّا عَلِیٌّ |

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:522 و 523 و 524۔

2 ...سیرۃ ابن ہشام، غزوۃ بدر الکبریٰ، مقتل الاسود بن المخزومی، جلد:1، جز:2، صفحه:214۔

ترجمه: اصلي توره خو ذو الفقار (يعني د رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم توره) ده او حقيقي ځوان يعني بهادر خو حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے۔ (1) سُبْحٰنَ الله!

| | |
|---|---|
| مُرتَضیٰ شیر حق اَشْجَعُ الْاَشْجَعِیں | ساقیِ شِیر و شربت پہ لاکھوں سلام |
| شیر شمشیر زَن شاہِ خیبر شِکَن | پَرتَوِ دستِ قدرت پہ لاکھوں سلام (2) |

وضاحت: ❀ د الله پاک ازمرے ❀ پۀ بهادرو کښې د ټولو نه زيات بهادر او ❀ [پۀ خلقو باندې] د حوضِ کوثر جامونه څښونکي مولائے کائنات رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې دې پۀ لکونو سلامونه نازل شي ❀ مولا علي الْمُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ازمري پۀ شان پۀ بهادرۍ سره توره وهوونکے ❀ د خيبر دروازه ماتوونکے ❀ د دَستِ قُدرت فيضان موندونکے دے، پۀ هغوئي باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي۔

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 4 خصوصي شانونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا درې صحابۀ کرام حضرت مولیٰ علي، حضرت حمزه او حضرت عبيده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم کوم چې د بدر پۀ ورځ د ټولو نه ورمبے ورمخکښې شول او غير مسلمه يې دوزخ ته ورسول، د دې دريو واړو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم پۀ باره کښې دا آيتونه مبارک نازل شول، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ یُدْخِلُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه الله به ايمان والا او نيک اعمال کوونکي هغه باغونو ته داخلوي د کومو نه لاندې چې نهرونه بهيږي. هغوئي ته به پۀ هغه باغونو کښې د سرو زرو کړې [بنګړې] او |

1 ... الرياض النضرة، جز:3، الباب الرابع، الفصل السادس، ذكر اختصاصه بتنويه... الخ، صفحه:134۔

2 ... حدائقِ بخشش، صفحه:313 ملتقطًا۔

| | |
|---|---|
| وَّلُؤْلُؤًا ؕ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾ وَهُدُوْۤا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚۖ وَهُدُوْۤا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿۲۴﴾ (پارہ:17، سورۂ حج:2423) | ملغلرې وراچولے کيږي، او په جَنَّتونو کښې به د هغوئي جامې ريښم وي- او هغوئي ته د پاکيزه خبرې هدايت وکړے شواو هغوئي ته د ټولو تعريفونو لائق (الله) لاره وښودلے شوه- |

دا خلور اِنعامونه دي: (1): دوئي ته به جنَّتي باغونه عطا کولے شي (2): دلته به دوئي ته د سرو زرو کړې (***Golden Bracelets***) او لعلونه (***Pearls***) اچولے شي (3): د دوئي جامې مبارکې به د ريښمو (***Silk***) وي (4): دوئي ته د پاکې خبرې هدايت اوکړے شو او د ټولو خوبيانو والا رَبِّ کريم لاره ورته وښودلے شوه-

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ---!!

تَعَالَی الله تری شوکت تری صَولَت کا کیا کہنا | کہ خطبہ پڑھ رہا ہے آج تک خیبر کا ہر ذرّہ
مسلمانو! رسولُ الله کی الفت اگر چاہو | کرو اس کی غلامی جس کا ہر مومن ہوا بندہ(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ جنَّتي باغونه

حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: زۀ د رسولِ رحمت، مالِکِ جنَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مدينے په يوه لاره باندې تيريدم، مونږه د يو باغ په خوا راتير شو، ما ووئيل: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا خومره ښکلے باغ دے---!! اوئي فرمائيل: لَكَ فِي الْجَنَّةِ اَحْسَنُ مِنْهَا (يعني اے علي!) تا ته به په جنَّت کښې د دې نه هم ښائسته باغ درکولے شي- بيا مونږه تللو او د يو بَل باغ په خوا راتير شو، ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا هم خومره ښکلے باغ دے- اوئي فرمائيل لَكَ فِي الْجَنَّةِ اَحْسَنُ مِنْهَا (يعني

1...ديوانِ سالک، صفحه:82،80ملتقطاً۔

اے علي!) تا ته به پهٔ جنَّت کښې د دې نه هم ښائسته باغ درکولے شي- هم داسې تللو تللو مونږه د 7 باغونو پهٔ خوا راتير شو، نبي کريم صَلَّى اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر ځل هم دغه وفرمائيل: لَکَ فِی الۡجَنَّۃِ اَحۡسَنُ مِنۡھَا (يعنې اے علي!) تا ته به پهٔ جنَّت کښې د دې نه هم ښائسته باغ درکولے شي- (1)

| | |
|---|---|
| میں گُناہوں کا مریض اور آپ ہیں میرے طبیب | دیجئے! مجھ کو شِفا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| مغفرت کروایئے! جنّت میں لے کے جایئے! | واسِطہ حسنین کا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| اشکبار آنکھیں عطا ہوں ، دِل کی سختی دُور ہو | دیجئے خوفِ خُدا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| بھیک لینے کے لئے دربار میں منگتا ترا | لے کے کشکول آگیا مولیٰ علی مشکل کُشا! |
| کیوں پھروں در در بھلا خیرات لینے کے لئے | میں فقط منگتا تِرا مولیٰ علی مشکل کُشا! (2) |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د طُوبیٰ وَنې جرړې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې آيت مبارک واورئ! ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| طُوۡبٰی لَہُمۡ وَ حُسۡنُ مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾ (پارہ:13، سورۂ رعد:29) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: د هغوئي د پاره خوشحالي او ښهٔ انجام دے- |

يعنې ايمان والا او نيک اعمالو والا چې کوم دي، د هغوئي د پاره طُوبیٰ ده او د اوسيدو بهترين ځائے دے-

1...مسند ابی یعلیٰ، مسند علی بن ابی طالب، جلد:1، صفحہ:191، حدیث:565۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:522-524 ملتقطاً۔

**دا طُوبیٰ څهٔ دي؟** پهٔ دې باره کښې روايت واورئ! حضرت ابو جعفر رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې پوښتنه اوکړے شوه: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پهٔ دې آيت کښې د **طُوبیٰ** څهٔ مطلب دے؟ اوئې فرمائيل: دا يوه وَنه ده، د کومې جرړې چې زما پهٔ (جنَّتي) محل او ښاخونه پهٔ ټولو محلونو کښې خوارهٔ دي۔

دا موقع تيره شوله، يو ځل بيا د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې هم دغه پوښتنه وشوه، پهٔ دې ځل رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **طُوبیٰ** پهٔ جنَّت کښې يوه وَنه ده، د هغې جرړې د علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ (جنَّتي) محل کښې او ښاخونه پهٔ ټول جنَّت کښې خوارهٔ دي۔

صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم عرض اوکړو: پهٔ دې معامله پوهه نهٔ شو، وړومبے ارشاد شوے وو چې د **طُوبیٰ** وَنې جرړې د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ جنَّتي محل کښې دي، اوس ارشاد وشو چې د دې جرړې د علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ جنَّتي محل کښې دي، د دې څهٔ مطلب دے؟ خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنَّ دَارِیْ وَدَارَعَلِیٍّ غَدًا فِی الْجَنَّةِ وَاحِدَةٌ يعنې بے شکه پهٔ جنَّت کښې به زما او د علي محل هُم پهٔ يو ځائے کښې وي۔(1)

| | | |
|---|---|---|
| عاشقِ مصطفیٰ مرتضیٰ، مرتضیٰ | سیدُ الاولیا مرتضیٰ، مرتضیٰ | مرتضیٰ |
| ہیں خائفِ خُدا مرتضیٰ، مرتضیٰ | متقی پارسا مرتضیٰ، مرتضیٰ | مرتضیٰ |
| شہرِ علم کے ہیں باب مرتضیٰ، مرتضیٰ | بُو الحسن بُو تراب مرتضیٰ، مرتضیٰ | مرتضیٰ |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ شانونه خو ډير زيات دي، دومره زيات دي چې زمونږ پهٔ شان بے کاره هيڅکله د هغوئي د شان بيانولو حق نشي ادا کولے، وخت مختصر دے، راځئ چې د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ درې نصيحتونه واورو:

1... تفسیر قرطبی، پارہ:13، سورۂ رعد، زیر آیت:29، جلد:5، جز:9، صفحہ:191۔

## (1): د بندګانو د حقونو پوره کولو نصيحت

ډير لوئي مُحَدِّث، امام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ روايت ذکر کوي، د کوم مضمون چې څۀ داسې دے چې د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خِلافت زمانه وه، يوه ورځ هغوئي بازار ته تشريف يوړلو، هغوئي وليدله چې يوه زنانه ولاړه ده او ژاړي، مولائے کائنات، مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغې نه د ژړا پوښتنه اوکړه نو هغې ووئيل: زۀ وينزه يم، ما د فلانکي دکاندار نه د يو څو درهمو کجورې اخستې وې خو زما د مالِک هغه کجورې خوښې نۀ شوې او هغۀ واپس کړې، اوس دکاندار کجورې واپس نۀ اخلي، ځکه زۀ پريشانه يم- حضرت علي المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه کجورو خرڅوونکي ته د هغې زنانه سفارش اوکړو او اوئې فرمائيل: کجورې واپس واخله او د دې خوارې درهمې واپس کړه، دا خو وينزه ده، خپله خوښه نشي کولے- حضرت مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډير د عاجزۍ والا وو، لکه څنګه چې نن سبا کيږي چې بادشاه چرته ځي نو د پوره پروټوکول سره ځي، سيکيورټي ګارډز ورسره وي، د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هيڅ داسې سيکيورټي نۀ وه، هغوئي هم د عامو خلقو پۀ شان بازار ته تشريف راوړے وو، نو کجورو خرڅوونکي هغوئي اونه پيژندلو، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله د زنانه سفارش اوکړو نو دکاندار **مَعَاذَ الله!** حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ له ديکه ورکړه- خلقو چې کله دا منظر وليدلو نو دکاندار ته يې ووئيل: آيا تا ته پته نشته چې تا چا له ديکه ورکړه، دے څوک دے؟ اوئې وئيل؟ نه، ما ته پته نشته- خلقو ووئيل چې دا اَميرُ المُؤمِنِين حضرت علي المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے- بيا هغه کَس ويريدو او هغه زر زر د هغې زنانه نه کجورې واپس واخستې او د هغې درهمې يې واپس ورکړې او د حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خِدمت کښې حاضر شو او پۀ عاجزۍ سره يې عرض اوکړو: عالي جاه! زۀ غواړم چې تاسو زما نه راضي شئ- مولائے کائنات، حضرت مولا

علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: **که زما رضا غواړې نو د خلقو حقونه پوره پوره ادا کوه--!!** (1)

یاعلیؑ المرتضیٰ، مولیٰ علی مشکل کُشا | آپ ہیں شیرِ خُدا مولیٰ علی مشکل کُشا
صاحبِ لطف و عطا مولیٰ علی مشکل کُشا | ہیں شہیدِ باوَفا مولیٰ علی مشکل کُشا(2)

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د سبق نه پۀ دې ډکه واقعه کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډېر مدني ګلونه دي- د ټولو نه وړومبے خو دې ته وګورئ چې حضرت عليُ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ څومره د عاجزۍ والا وو، هغوئي اَمیرُ المُؤمِنِین دے، د مسلمانانو خلیفه دے، د دې باوجود به یې د عامو خلقو پۀ شان بازار ته تشریف وړلو، بیا پۀ دې خبره باندې هم غور اوکړئ چې هٰغه ګس پۀ نا خبرتیا کښې حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ له **مَعَاذَ الله!** دیکه ورکړه، دا د بے ادبۍ والا سلوک وو پۀ دې باندې هم هغوئي هٰغه ګس له سزا ورنکړه-

**سُبْحٰنَ الله!** الله پاک دې مونږ ته هُم د تَواضُع او عاجزۍ اختیارولو توفیق رانصیب کړي.

فخر و غُرور سے تُو مولیٰ مجھے بچانا | یا رَبّ! مجھے بنا دے پیکر تُو عاجِزی کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خلقو حقونه پوره کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دویم مدني ګل کوم چې مونږ ته د دې واقعې نه د زدکړې د پاره میلاؤ شو هغه دا چې حضرت مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کجورو خرڅوونکي ته وفرمائیل: که تۀ ما راضي کول غواړې نو د خلقو حقونه پوره کړه-

د دې نه معلومه شوه چې د خلقو حقونه پوره کول د ډېر لوئي فضیلت او اهمیت والا کار دے، مونږ ټولو له پکار دي چې د بندګانو حقونه پوره کړو ❀ د مور او پلار هم حقونه

1 ...فضائل الصحابه لاحمد بن حنبل، فضائل علی، جز:2، صفحه:621، حدیث:1062۔

2 ...وسائلِ بخشش، صفحه:521۔

دي ❁ د خوئيندو وروڼو هم حقونه دي ❁ اِسلام د ګاؤنډيانو حقونه هم ساتلي دي ❁ د دوستانو خپلوانو هم حقونه ساتلے شوي دي ❁ د محلي والؤ هم حقونه دي ❁ د دکاندارانو هم حقونه دي ❁ د ګاهک هم حقونه دي، د دې ټولو حقونه پوره کول دي- اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم!

## د بندګانو د حقونو اهميت ډير زيات دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا خبره هميشه ياده ساتئ چې د حُقُوقُ العِباد (يعني د بندګانو د حقونو) معامله ډيره نازکه ده بلکې علمائے کرام فرمائي: په يو لحاظ سره د حُقُوقُ العِباد معامله ډيره سخته ده ځکه چې د قيامت په ورځ به که الله پاک وغواړي نو خپل حقونه به معاف کړي خو د بندګانو حقونه به د هغې پورې نۀ معاف کيږي، د څو پورې چې يـې هٰغه بنده پخپله معاف نۀ کړي-

او آه! نن په دُنيا کښې خو په معافۍ غوښتو، په څۀ ورکولو څوک راضي کيدے خو هم شي خو د قيامت په ورځ--!! آه! هٰغه سخته ورځ، په هٰغه ورځ به نۀ مال او دولت وي، نۀ به صرف په لاس جوړه کولو کار کيږي، هر يو به د نيکو د پاره سر وهلے بر وهلے ګرځي، ځان به په څۀ طريقه د دوزخ نه د بچ کولو او جَنَّت ته د رسولو په فِکر کښې وي، په هٰغه ورځ به د بندګانو نه خپل حقونه معاف کول ډير ګران شي-

## خپلې نيکۍ د لاس نه تللے شي

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے، اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د چا په عزت يا په څۀ بل څيز سره زياتے کړے وي نو هغه له پکار دي چې د هٰغې ورځې د راتللو نه مخکښې هم نن دې معافي حاصله کړي په کومه ورځ چې به ورسره درهمې او دينارونه نۀ وي- که د هغه سره نيک اعمال وي نو د ظلم برابر به د هغې نه اخستلے کيږي او که نيکۍ نۀ وې نو د ظلم برابر د مظلوم ګناهونه به په هغۀ باندې

اچولے کیږي-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اندازه ولګوئ چې د بندګانو د حقونو معامله څومره سخته ده، نن وخت دے، موقع ده، مونږ ټولو له پکار دي چې د بندګانو د حقونو په معامله کښې ډېر حساس اوسو، وړومبے خو د چا حق وه نهٔ خورو، چا ته څهٔ تکلیف وه نهٔ رسوو، خُدائے دې نهٔ کړي که زمونږ په وجه د چا زړهٔ ازار هم شي نو فوراً ترې معافي او بخښنه وغواړو-

اِمام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د احیاءُ العلوم په دويم جلد کښې په تفصيل سره د بندګانو حقونه بيان کړي دي- د هُغه ځائے نه د بندګانو د حقونو بيان ولولئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د حقونو پوره کولو ذِهن به مو هم جوړ شي او په دې باره کښې به درته ډېر معلومات هم حاصل شي- اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## (2): په اخرت کښې خپل کور جوړ کړه!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اَميرُ المُؤمِنِين حضرت مولیٰ علي مشکل کُشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دويم نصيحت څهٔ دے---؟؟ راځئ چې واورو! حضرت بايزيد بِسطامي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډېر لوئي وَلِيُّ اللّٰه دے، يو ځل د هغوئي بخت رابيدار شو او په خوب کښې ورته د مسلمانانو څلورم خليفه، مولیٰ علي مشکل کُشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تشريف راوړلو، حضرت بايزيد بِسطامي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په ادب سره عرض اوکړو: اے اَمِيرُ المُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ! ما ته څه فائده منده خبره وښايئ! هغوئي يو څو نصيحتونه اوکړل، بيا يې وفرمائيل: د ټولو نه بهترين نصيحت دا دے، په دومره

[1]...بخاری، کتاب فی المظالم والغضب، باب من کان له مظلمۃ...الخ، صفحہ:631، حدیث:2449-

وئيلو سره هغوئي موتي کولاو کړو، پۀ هغې باندې د سرو زرو پۀ اوبو دا شعر ليکلے شوے وو:

| | |
|---|---|
| كُنْتَ مَيِّتًا فَصِرْتَ حَيًّا | وَعَنْ قَلِيلٍ تَكُونُ مَيِّتًا |
| فَابْنِ بِدَارِ الْبَقَاءِ بَيْتًا | وَاهْدِم بِدَارِ الْفَنَاءِ بَيْتًا |

ترجمه: تۀ مخکښې هيڅ نۀ وې، بيا ژوندے شوې، ډير زر به بيا مړ شې، بس پۀ باقي پاتې کيدونکې جهان (يعنې اخرت) کښې خپل کور جوړ کړه! د دارِ فنا (يعنې د دُنيا) کور راوغورځوه! (1)

| | |
|---|---|
| دل سے دنیا کی محبّت دور کرکے یاعلی ! | دیدو عشقِ مصطفٰے مولیٰ علی مُشکل کُشا! (2) |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا يو ډير ښکلے نصيحت دے، د دې دا مطلب هيڅکله نۀ دے چې مونږ خپل کور وران کړو بے کوره شو، آؤ! دا مطلب يې ضرور دے چې د دې دُنيا پۀ کور کښې زړۀ نۀ لګوو بلکې د اخرت فِکر اوکړو-

| | |
|---|---|
| آخِرت کی فکر کرنی ہے ضَرور | زندگی اِک دن گزرنی ہے ضَرور |
| قبر میں میّت اُترنی ہے ضَرور | جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضَرور |
| ایک دن مرنا ہے آخِر موت ہے | کر لے جو کرنا ہے آخِر موت ہے |

## (3): د بخښنې طرف ته منډې وهئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دريم نصيحت واورئ! حضرت علي المُرتضیٰ شير خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو ځل پۀ خطبه کښې وفرمائيل: اے د الله پاک بندګانو! مرګ! مرګ! د کوم نه بچ کيدونکے څوک هم نشته - که تاسو د دې نه د تښتيدو کوشش کوئ نو دا به تاسو تيښتې ته نۀ پريږدي او تاسو به را ونيسي- دې مرګ تاسو د

1...تاريخِ دمشق، رقم:1561، الحسين بن على بن جعفر البغدادى، جلد:14، صفحه:105۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:523۔

تندي نه نيولي يـې- اوس نجات صرف پۀ زر عمل كولو كښې دے- پۀ تاسو پسې شاته يو تادي كوونكے طالب دے او هغه قبر دے- واورئ! قبر د جَنَّت د باغونو نه يو باغ يا د دوزخ د كندو نه يوه كنده ده- واورئ! دا قبر هره ورځ درې ځله خبرې كوي او وائي: **زۀ د تيارې كور يم، زۀ د وحشت كور يم او زۀ د حشراتو كور يم**- واورئ! د دې قبر نه پس يوه داسې ورځ ده د كومې نه چې بَله سخته ورځ نۀ ده راغلې- پۀ هغه ورځ به ماشومان بوډاګان شي او مشران به پۀ هوش كښې نه وي- **الله** پاک فرمائي:

تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَ تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَ تَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَ مَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَ لٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ﴿۲﴾ (پاره:17، سورۀ حج:2)

ترجمهٔ كنزُالعِرفان: د هرې پۍ وركوونكې نه به خپل د پئيو خوړلو والا ماشوم هير شي او هره حمل والا به خپل حمل وغورځوي او تۀ به خلق وينې لكه پۀ نشه كښې چې دي حالانكې هغوئي به نشه كښې نۀ وي خو دا ده چې د الله عذاب ډير سخت دے-

واورئ! د دې نه پس داسې ورځ (يعني قيامت) دے د كومې نه چې بَله سخته ورځ نشته- پۀ هغه ورځ به دوزخ غرغنده‌ې وهي، د هغه ګرمي به سخته وي او د هغې ژور والے به ډير زيات وي- **د هغه دوزخ كالے د اوسپنې ګرز او د هغۀ اوبۀ وينې زغوې دي**، پۀ دې كښې د **الله** پاک د رحمت هيڅ حصه نشته- دا يـې چې واوريدل نو خلقو ډير وژړل بيا حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ارشاد وفرمائيلو: د هغې نه پس هم يوه ورځ ده- (د كومې پۀ باره كښې چې **الله** پاک فرمائيلي دي:)

وَسَارِعُوْۤا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُۙ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَۙ ﴿۱۳۳﴾ (پاره:4، سورۀ ال عمران:133)

ترجمهٔ كنزُالعِرفان: او د خپل رب بخښنې او د هغه جَنَّت طرف ته منډې كړئ چې د هغې پراخې د اسمانونو او د زمكې برابره ده- هغه د پرهيزګارو د پاره تيار كړے شوے دے-

الله پاک دې مونږه جَنَّت ته داخل کړي او د دردناک عذاب نه مو دې بچ کړي۔ (1)

## پهٔ اِجتماعي اِعتكاف کښې شركت اوکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د روژې مياشت خپل بركتونه تقسيموي، اوس به يو څو ورځې پس د دوزخ نه د ازادئ عشره شروع شي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوس هم رحمتونه راوريږي، د بخښنې چيټئ تقسيميږي، ډير زر به نور رحمتونه راوريدل هم شروع شي، بيا پهٔ اخرئ عشره کښې خو شبِ قدر هم راتلونکې دے، ځکه مونږ ټولو له پکار دي چې د بخښنې طرف ته منډې کړو۔ د دې طريقه به څهٔ وي؟ هم دا چې څومره هم عبادتونه کوو، د اخرئ عشرې پهٔ راتللو پهٔ هغې کښې نور هم زياتوالے اوکړو۔ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د رمضان د مياشتې د وړومبو 20 ورځو عبادت هم فرمائيلو، ارام به يې هم کولو، بيا به چې کله اخرئ عشرې تشريف راوړلو نو عبادت ته به يې ملا ښه کلکه وتړله۔ (2)

مونږ له هم پکار دي چې دا اخرئ ورځې غنيمت وګڼو، پهٔ دې کښې ښه ډير عبادت او رياضت ته ملا کلکه وتړو، ښه خو دا دي چې د اخرئ عشرې اِعتکاف اوکړو، چې پهٔ جومات کښې يو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ګناهونو نه به هم بچ يو او د نيکو ميټر (*meter*) به مو هم روان وي۔ ښه خو دا ده چې د دعوتِ اِسلامي لاندې پهٔ کيدونکي اِجتماعي اِعتكاف کښې شرکت اوکړئ، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د اِجتماعي اِعتكاف پوره جدول جوړ شوے وي ❁ مُعَلِّم (سبق ښودونکي) موجود وي ❁ د عِلمِ دِين د زده کولو ښودلو لړئ هم روانه وي

1...تنبيه الغافلين، باب عذاب القبر، صفحه:20۔

2...مسلم، کتاب الاعتکاف، باب الاجتهاد في العشر الاوخر من شهر رمضان، صفحه:429، حديث:1174۔

✿ عبادتونه هم کيږي او ✿ د اِعتکاف ورځې څنګه تيرول دي؟ ډيرې نيکۍ څنګه ګټل دي؟ وخت پهٔ وخت د هغې لار ښودنه هم کيږي-

## د اِعتکاف فضيلتونه

✿ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه، طيبه طاهره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دے: مَنِ اعْتَكَفَ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو پهٔ نيت اِعتکاف اوکړو د هغه وروستني ګناهونه به وبخښلے شي- (1) ✿ پهٔ يو حديث کښې فرمائي: چا چې پهٔ رَمَـضَان شريف کښې 10 ورځې اِعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يــې اوکړې- (2)

## نفلي اِعتکاف خو اوکړئ---!

که د ټولې عشرې اِعتکاف نهٔ شی کولے نو نفلي اِعتکاف اوکړئ! مثلاً د ورځې خپل ضروري کارونه اوکړئ! جومات ته راشئ او شپه د اِعتکاف والؤ سره تيره کړئ! د دې سره به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير برکتونه نصيب شي- د الله پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د الله پاک د رضا د پاره د يوې ورځې اِعتکاف اوکړي الله پاک به د هغهٔ او د دوزخ ترمينځه درې خندقونه خنډ [يعني رکاوټ] کړي، د هر يو خندق مزل د مشرق او د مغرب د فاصلې نه هم زيات دے- (3)

---

1... جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8480-

2... جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8479-

3... شُعَبُ الْاِيْمَان، بَاب: فى الاعتكاف، جلد:3، صفحه:425، حديث:3965-

| | |
|---|---|
| میٹھے آقا کریں گے کرم کی نظر | دِینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| مرضِ عِصیاں سے چُھٹکارا چاہو اگر | دِینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| فضلِ ربّ سے گناہوں کی کالک دُھلے | دِینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| نیکیوں کا تمھیں خُوب جذبہ ملے | دِینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف(1) |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اِیصالِ ثواب اوکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ 17 رَمَضَانُ المُبَارَک غزوۀ بدر شوي، لهذا پۀ دې ورځ د غزوۀ بدر د شهیدانو د پاره اِیصالِ ثواب اوکړئ! ❁ پۀ 18 رَمَضَانُ المُبَارَک زمونږه د مسلمانانو د خوږې مور جانې، صِدّیقه بنتِ صِدّیق حضرت عائِشه صِدّیقه طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د وصال ورځ ده ❁ بیا پۀ 19 رَمَضَانُ المُبَارَک د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږې شهزادګۍ حضرت رُقَیَّه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د وصال ورځ ده، لهذا د دې دواړو مقدسو هستیانو پۀ دربار کښې هم د اِیصالِ ثواب ډالۍ ضرور وړاندې کړئ! ❁ پۀ 21 رَمَضَانُ المُبَارَک د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د وصال ورځ ده، لهذا د هغوئي پۀ دربار کښې هم د اِیصالِ ثواب ډالۍ ضرور وړاندې کړئ! **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: اوراقِ مقدسه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دعوتِ اِسلامي د 80 نه د زیاتو شعبو پۀ ذریعه د دِینِ اِسلام خِدمت کوي او د مسلمانانو خیر خواهي کوي، پۀ دې شعبو کښې یوه **شعبه اوراقِ مقدسه** هم ده۔

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:639۔

د دې شعبې په ذريعه د مقدسو اوراقو يعنې ❀ په کوڅو په محلو کښې ❀ د جوماتونو سره ❀ په مختلفو چوکونو کښې بکسې او ډرمونه لګولے شي او مقدس اوراق راجمع کولے شي، بيا دا په بار دانو کښې واچولے شي او ❀په قرآن محل کښې محفوظ کولے شي ❀يا ښخولے شي، ❀يا په سمندر کښې ډوبولے شي-

دا شعبه غټو او وړو 670 ښارونو او اطرافو کښې کار کوي، د دې شُعبې تر لاندې 1 لاکھ 25 زره يو سل او 97 عمومي بکسې، 2 زره 2 سوه او 71 لوئي ډرامونه اينښودے شوي دي، د اوراقِ مقدسه د پاره 42 ريکشې او ګادي، 3 سوه او 18 ستوروونه، 84 کارخاني اور 78 قرآن محل قائم دي- د اوراقِ مقدسه د 28 لکه نه زياتې بار دانې [يعني بورئ] محفوظې کړے شوې دي-

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټيچر(***Quran Teacher***)- ❀ په دې ايپلي کيشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان د بے شميره آن لائن کورسونو د پاره رجسټريشن کولے شي ❀ په سټوډنټ پورټل (***Student Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❀ د دعوتِ اِسلامي په دې پليټ فارم باندې تقريباً د 45 نه زيات اِسلامي کورسونه کولے شي ❀ تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر يو کورس انتخاب کولے شي او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له

هم ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين پۀ خدمت کښې مصروف دے۔

❁ د 1500 نه زيات جامعات الـمدينه (ګرلز اينډ بوائز)، 19 زره 900 مدارس الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) جوړ کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې حفظ او ناظره، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تخصصات (*Specialization*)، فرائض علوم کورسز کولے شي ❁ پۀ جامعات او مدارسُ الـمدينه ***(Boys & Girls)*** کښې د طالبِ علمانو شريکه شميره قريباً 5 لاکهه 69 زره ده۔ ❁ د فيضانِ اِسلام سکول، دار الـمدينه (سکول، کالج، يونيورسټي) شميره 299 او د نارينۀ او زنانۀ طالبِ علمانو شميره د 54 زره نه زياته ده ❁ د مدني چينل اردو، انګلش، بنګله، کِډز مدنی چينل، د مشرانو مدني چينل او عربي ويب چينل په ذريعه د دينِ اسلام خدمت جاري دے۔

تاسو هم د دِين د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده يعني ډونيشن پۀ څۀ قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، پۀ ښو او د امدن زياتولو پۀ جائز او محفوظو کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللّٰہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# یو څو ضروري اِعلانات

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د روژې په میاشت کښې خاص طور امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه په **مَدَني چینل** باندې روزانه د مازیګر د نـمونځ او د تراویح نه پس د مَدَني مذاکرې په ذریعه د سوالونو جوابونه ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **"زړۀ ته سکون ورکوونکې آیتونه"** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر ***(Share)*** کړي!

**د قرآن پیغام اوس شو اسان:** د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ترجمه او مختلف تفاسیر په نظر کښې ساتلو سره په اسان او منفرد انداز کښې لیکلے شوې ده. د قرآن ترجمه **"ترجمه کنزالعرفان "** کومه چې مکتبةُالْمدینه د اردو **نه** علاوه په 3 ژبو انګلش، سندهي او پښتو کښې شائع کړې هُم ده، دا ترجمه د مکتبةُالْمدینه د هرې څانګې نه قیمتاً طلب کولے شئ.

د امیر اهلسنت دامتبرکاتهمالعالیه نوے کتاب **"مکتوبات امیر اهلسنت "**مکتبةُالْمدینه ته راغلے دے، هُم نن ئې قیمتاً طلب کړئ.

د رمضان میاشت په نېکو کښې د تېرولو **د** پاره د مکتبةُالْمدینه **نه** د **"جنتي اعمال کارډ"** په 5 روپۍ قیمتاً حاصل کړئ، دې **نه** علاوه د جنتي اعمال موبایل ایپلي کېشن انسټال کولو په ذریعه سره هم [د اعمالو] جائزه اخیستلے شي.

❁ د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ خوشحالۍ کښې د ❁ کورونو ❁ دفترونو ❁ دکانونو ❁ محلو ❁ جوماتونو وغیره د ښائسته کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه زرهٔ راښکونکي ډیزائن پینا فلیکس او ښکلې د سینګار لړۍ پهٔ بیعه حاصلې کړئ۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان پهٔ اخره کښې د صدقهٔ فِطر [سر سایه] ورکولو د یو څو فضیلتونو او آدابو بیانولو سعادت حاصلوو.

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د سرسایه فضیلت

الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ تَزَکّٰی ﴿۱۴﴾ (پارہ:30، سورۃ الاعلیٰ:14) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه چا چې ځان پاک کړو هغه به کامیاب وي۔ |

پهٔ تفسیرِ خزائنُ العِرفان کښې دي: پهٔ دې آیت کښې د تزکیٰ نه مُراد سرسایه ورکول دي۔[1] یعنې کوم اِنسان چې د وړوکې اختر پهٔ موقع باندې سرسایه ورکوي او غریبانو ته د اختر د خوشحالو کولو موقع ورکوي، د هغهٔ زړهٔ صفا کیږي او هغه فلاح او کامیابۍ ته رسیږي۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❁ سر سایه پهٔ هر ازاد مسلمان د نصاب پهٔ مالِک باندې

1 ...تفسیر خزائن العرفان، پارہ:30، الاعلیٰ، زیرِ آیت:14، صفحہ:1099۔

د چا نصاب چې د حاجت اَصلِیه [یعنې د خپل اصلي ضرورت] نه زیات وي واجِب ده- [1] ✿ پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: کوم چې ستاسو مالداره دي **الله** پاک به (د سرسایه د ورکولو پهٔ وجه) هغوئي پاک کړي او کوم چې غریبان دي نو **الله** پاک به هغوئي ته (چې کومه صدقه ورکړے شوې ده) د هغې نه هم زیات ورکړي- [2] ✿ حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما فرمائي: د سرسایه پهٔ ورکولو کښې درې فضیلتونه دي: (1): د روژو قبلیدل (2): پهٔ مرګ کښې اساني (3): د قبر د عذاب نه نجات-[3] ✿ د مدینے والؤ به د سرسایه او د اوبو ښنبولو نه افضله هیڅ یوه صدقه نهٔ ګڼله- [4] ✿ خلیلِ مِلّت حضرت علامه مفتي محمد خلیل خان برکاتي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: سرسایه پهٔ اصل کښې د **رمضان شریف** د روژو صدقه ده د پاره د دې چې د لغو او فضول کارونو نه روژه پاکه شي او ورسره د غریبانو، بے وسو د اختر ذریعه او د روژو نه د حاصلیدونکو نعمتونو شکریه هم جوړه شي- [5]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

---

1...بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:935، حصه:5۔

2...ابو داود، کتاب الزکاة، باب من روی نصف صاع من قمح، صفحه:265، حدیث:1619۔

3...المبسوط للسرخسی، کتاب الزکاة، باب صدقة الفطر، جلد:2، صفحه:114۔

4...تفسیر طبری، پارہ:30، سورۂ اعلی، زیرِ آیت:14، جلد:12، صفحه:547، حدیث:36992۔

5...بہارِ اسلام، حصّہ:7، صفحه:87۔

علم حاصل کرو، جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو
سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي. [1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریكه ئې اُووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

یوه ورځ یو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اكبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه كښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شول چې دا

---

1 ... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

ځوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لا ړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: ځوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

---

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

3...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

4...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد